(دکتاب نــوم ــ داستاذ شفقت (ناول

---

ليکوال ــ رفیع الله علی حیدر وردګ

---

دلیکوال سره اړیکی
0797335830
0730432762

---

زما لیکل شوی ناولونه ـ غم او
هجران ــ دخور او ورور ارمان ــ
دزور مینه ــ نیمګړې ژوند ــ

---

دکتاب په اړه ــ کتاب اول سر کی
داستاذ او دا شاګر کیسه ده دهغی
وروسته بیامینه شروع شوی

---

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیکوال پیژند ګلوي ـ لیکوال رفیع
الله علی حیدر د شنیز دښکلی قریه او
دسیداباد دولسوالی او میدان وردګو
دولایت دی

---

دلیکوال خبری
ګرانو او محترمو لوستونکو په دی
هیله چی روغ او جوړ به یاست زه
ستاسو ورور رفیع الله علی حیدر
وردګ دا هیله لرم چی ستاسو زما
ناول دخوښی وړ وګرځی ستاسو هیله
لرم چی په ژوند کی د دریو کسانو
زیات احترام کوی اول ستاسو مور
دوهم ستاسو پلار او دریم ستاسو
استاذ نو زه لتاسو هیله کوم په ژوند
. کی ډیر احترام کوی

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو ورور . رفیع الله علی حیدر
وردگ

---

. دماشومتوب دوره وه
خوندوره دوره وه نه غم اونه بل کوم
مشکل نه پیژندو
بس روانه وه ژمی وو واورې پرتې
وی.
موږپه واوره کی ډیر ساعت تیر وو.
سهار او ماسپیښین به جومات ته
تللم.
قرآنکریم می ملاصاحب څخه شروع
کړی وو.
زیات خوند یی کولوبس زیات می زده
کیدلو.
. ملا صاحب به ماته ډیر آفرین ویل
زه تری مننه کوم چی زه یی تشویق

(c) ketabton.com: The Digital Library

. کولم
. قرآنکریم می ښه په ترتیب زده کړو
.نوبیا می په تجوید باندی شروع کړو
بس نو پسرلی شوو او زما پلار زه
.بوتللم مکتب کی شامل کړم
نو مکتب هم شروع شوو ماته یی
. کتابونه راکړل
درس مو وویلا راغلم کورته کتابونه
.می ښه پوښ کړل
سبا بیا لاړم مکتب ته درس مو وویلا
. وخت تیریده
.په همدغه شان به مکتب ته تللم
. دری کاله وخت تیر شوو
زه هم په دریم صنف کی وم او تر
.دریمه اول نمره وم
دریم کی یو استاذ زه ډیر تختی ته
پاخولم او پوښتنی به یی هم راځخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر کولی.
بیا به چی ما دهغی پوښتنی حل نکړه
نو به یی ښه سم وهلم.
زما ډیر فکر خراب وو چی استاذ ولی
داسی کوی .
کوم مشکل لری بی احترامی خو می
یی هم نه ده کړی .
خو هیخ نه پوهیګم دا کال هم تیر
شوو.
زه بیا اول نمره شوم
بیا نوی تعلمی کال شروع شوو.
هغه استاذ بیا زموږ دصنف ورسره
ریاضی کتاب شولو.
زما په ریاضی سم سر هم نه
خلاصیدو.
فکر می خراب شوو چی دا استاذ به
بیا هغسی کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بله ورځ هغه استاذ زموږ کره
راغلی وو.
زه لاړم ترڅو چای وروړم خو چی له
کوټی ووتم اوپه بوټو پښو کولو اخته
شوم.
چی زما پلار هغه استاذ ته وویل چی
زما زوی څنګه دی درس یی زده کیږی
کنه .
استاذ ورته وویل هو ماشاءالله زه یی
ډیر تشویق کوم او ډیری پوښتنی تری
کړم په دی خاطر چی کوښښ وکړی.
اوپه راتلونکی کی ښه تکړه شی.
نو ما له ځان سره وویل چی دا وهل
او ډیری پوښتنی چی یی کولی دا چل
وو.
نوزه تری ډیر خوشال شوم او استاذ
داهم وویل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی زما زوی نشته نو دخپل زوی په
شان ورسره مینه لرم او دخپل زوی
په شان ورسره کمک کوم.
زه ډیر خوشاله شوم نو می چای
وروړو او زه بیرته بیرون ته لاړم .
زما مور مخکی له دنیا تللی وه خو
پلار می وو .
کور کی یو زه او یوه خور او پلار وو .
بس ژوند روان وو دا مکتب تر نهم
ټولګی وو.
نو لاړم بلی لیسی ته هلته لږ نابلده هم
وم.
زما پلار مریض شوو روپی هم راسره
نه وی .
نو می ځمکه او لږ نور شیان می خرڅ
کړل .
پلار می بوتلا کابل ته هلته یی بستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو
.خوحالت یی ورځ تربلی خرابیدو
زه ډیر خفه وم ځکه همدا یو پلار می
وو.
نور ځوک می نلرل کابل کی راته
وویل چی باید زه می پلار پوځم
. پاکستان ته
ماویل داکتر صیب ته لږ کوښښ وکړه
.
خو داکتر راته وویل ما خپل کوښښ
وکړو.
.خو نکیږی ماویل سمده
اوس نو ځنګه وکړم پاکستان ته خو
. پاسپورت پکار دی
.زه نو دا پاسپورټ ځنګه کړم
. خو نور می توان نه وو
یو نفر ته می وویل چی زما سره په
.پاسپورت جوړولو کی کمک وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر هغه ویل چی زه کار لرم ستالپاره
.خو زه خپل کار نشم پریښوی
او یو رقم درسره ځم چی ماته
.دورځی 400افغانی راکوه
ماله مجبوری ورته وویل سمده درکوم
.یی
سړی می سره روان کړو دا سړی زما
.کلیوال وو
. بس نو پاسپورت جوړ شول
خو دلته بل مشکل دا وو چی زه په
.پاکستان کی بلد هم نه وم
. بیا می فکر خراب شوو
.خبر شوم چی هغه معلم تکاوط شوی
.او تللی کابل ته
. نو ما فکر وکړو چی ورشم
خو سبا ور روان شوم داستاذ کورته
. ورسیدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاذ زه نه پیژندم خو چی ځان می
.ورته معرفی کړو ډیر خوشاله شوو
او دلاس یی ونیولم کورته یی بوتللم
. چای او ډوډی مو وخوړه
. ما ورته ټوله کیسه وکړه
استاذ چی می کیسه واوریده نو ډیر
. خفه شوو ماته یی ډاډ ګیرنه راکړه
ما ورته وویل چی اوس پاکستان ته
.ځم خو زه نابلده یم
استاذ ویل هیڅ یی په کیسه کی نشی
.
. زه خو شته یم
داستاذ دی خبری می زړه ډیر قرار
.کړو
. ماترې مننه وکړه
استاذ خپلی لورګانی دکاکا کره
واستولی زما خور یی هم دهغه استاذ
. دلورګانو سره واستوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

. زما سره روان شوو پاکستان ته
په لتره روان وو زما فکر ډیر خراب
.وو چی دابه څنګه کیږی
استاذ رابانډی غږ وکړو علی ولی
. داسی فکر کی ډوب یی
. ما ویل نه یم ډوب استاذه
سمده ډیر سوچ مه کوه اللّٰه پاک
. مهربانه دی
داستاذ خبرو به می زړه ته قرار
. راکولو
پلار می ویده وو ما او استاذ په خبرو
. لګیا وو
چی پلار می ویښ شوو ماورسره
. خبری وکړی چی پلار جانه څنګه یی
ویل اوس لږ ښه یم استاذ یی چی
ولیدو نو ډیر خوشاله شوو ما خوب
. نه وو کړی خوب زنګولم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار او استاذ په خبرو لګیا شول زه
ویده شوی وم
ښه خوندور ویده شوی وم ګورم چی
. شور ماشور دی
ډیر په ویره کی پاڅیدم ګورم چی
پاکستان په باډر یی یو افغانی ماشوم
.ویشتلی وو
لاره بنده وه زما ورباندی زړه درد
. وکړو
مازدیګر وو زه له موټر ښکته شوم
دهلک سر ته یوه پیغله جنی ناسته
.وه
بیخی زیات داسی یی ژړل چی زه یی
. هم په ژړا کړم
. زه ورغللم غږ می ورباندی وکړو
. خوری بس دی په ژړا خو څه نکیږی
خو هغی په ژړا کی داسی راته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی زما همدا یو ورور وو نور څوک
نلرم .
زما ورته زیات زړه پری وسوزیدو .
دځان سره می وویل چی دا پښتانه
په ګوم ګناه دومره ځوریګی.
پلار او استاذ می هلته په موټر کی
ناست وو.
ما دمازدیګر لمونځ وکړو .
هغه هلک او جنی دافغانستان
عسکروپه موټر کی خپل کور ته
واستول.
زه هم لاړم موټر ته استاذ او پلار سره
می خبری وکړی.
نو اوس خدای خبر چی لار به څه
وخت خوشی شی.
بس نو ماښام شوو ماښام لمونځ مو
وکړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی یو افغانی عسکر راغلو ډیر په
. ټیټ اواز یی وویل
له موټرو ښکته شی او شاته ته لاړ
. شی
ما ورته وویل ولی عسکره څه کیسه
.ده
هغی راته وویل ځوانه امر نه راځی
. زه دهغی خور دورور انتقام اخلم
.ماویل سمده پر ځان فام کوه
. ویل سمه ده ځوانه
موږ چی داسی لږ شاته لاړو چی
.دټوپکو درز او دروز شوو
څه کم یو ساعت جنګ وشو جنګ
. خلاص شوو
.یو افغانی عسکر شهید شوی وو
.او دوه نور ټپیان وو
لږ وروسته دپاکستان او افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

. عسکرو جرګه وکړه
خو دپاکستان عسکرو ویل چی هغه
افغانی عسکر ژوندی موږ ته په لاس
.راکړی راکړی
. ډیر تینګار یی کولو
. خو دافغانستان عسکرو هم نه منل
پاکستان ټانګان او نوری وسلی یی هم
. راوړی
خو دافغانستان داسی وسلی هم
.نلرلی
ویل یی یابه هغه عسکر موږ ته په
. لاس راکوی
. یانو جنګ ته تیاری وکړی
.نو دافغانانو خو بیا ځان ته غیرت دی
ویل راځی نو تاسو هم تیاری وکړی
.چی سره معلوم یی کړو
خو بیا دپاکستان عسکرو ویل چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. عسکر له وظیفی لری کړی
نو دا خبره دافغانستان عسکرو هم
ومنله ځکه بیدون له دی یی هم له
وظیفی لری کولو له امر یی سر غړونه
.کړی وه
کله چی له عسکر نظامی شیان
. اخیستل
نو دی هغه عسکر یوه خبره می اوس
.هم یاده ده
ویل زما دهر افغانی لپاره سر قربان
. دی
. نو دا وظیفه بیا چیشی ده
ما می دخپل افغان ورور انتقام
.واخیست
. نو ټولو ورته چکی وهلی
دپاکستان 6کسان مړه او څلور ټپیان
.وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما وربانډی ډیر زړه ښه وو
لاره بنده وه اوازه وه چی لس شپی
به لار بنده وی.
نو زموږ پلار او استاذ ډیر فکر خراب
وو چی دا لس شپی به څنګه تیروو.
خو یو دم استاذ ویل چی زما دملګری
دلی لنډ شته .
هلته به ورشو ما ویل سمده.
استاذ زنګ ورته وکړو ګف یی ورسره
وکړو .
چی کیسه یی ورته وکړه نو هغی
سړی ویل چی نیم ساعت وروسته زه
زنګ درته کوم.
موبایل یی کټ کړو .
استاذ ویل بــده ورځ یار نلری .
ماویل ولی استاذه څه کیسه ده.
هغه ویل دا زما تر ټولو نیږدی ملګری

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو .
چی زموږ د احتیاجی خبر یی
.واوریدو نو موبایل یی کټ کړو
او هیڅ ځواب یی رانکړو په همدی
. خبرو لګیا وو چی زنګ راغی
استاذ ویل زنګ یی راوکړو چی څه
. وایی استاذ ورسره وغږیدو
هغی سړی ویل چیری یاست زه خو
. دلته راغلم
استاذ ډیر خوشاله شوو
. هغی سړی موټر راوستلی
. په موتر کی یی ورسوو
استاذ په غوږ کی می ورو وویل
استاذه تا خو ویل چی موبایل یی
.راباندی کټ کړو
استاذ موسکی شوو ویل یی خوله دی
.پټه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو راورسیدو دسرې کور ته مورې ته یی
یوو اطاق ځانګړی راکړو.
ټول دارتیا ورې سامان یی هم راوړلو .
بوېی یی راوړه زه وېی شوی وم
بوېی ډیره زیاته مزه وکړه.
خو زما پلار بوېی نشوو خوړلی.
ځکه دهغی په مرۍ کی دانه وه .
هغی ته یی شیدی راوړی لږ لږ یی
وڅکی .
دی سرې زمورې ډیر خدمت وکړو .
الله پاک دی تری راضی شی.
پنځه شپی وخت تیر شوو خبر راغی
چی دپاکستان لاره خلاصه شوی .
نو دي سرې په موټر کی تر باډره
ورسولو .
وخت تیریده چی پاکستان پښاور ته
ورسیدو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

.لاړو مسافر خانه کی مو اطاق ونیوو
سبا لاړو شفاخانې ته ډاکترانو ویل
. چی دا مریض باید عملیات شی
او بله مری ور واچول شی په عملیات
. باندی 80000کلداری مصرف کیدو
نو عملیات مو هم وکړو لس شپی
.بستر وو
.لس شپی وروسته یی خارج کړو
پلار می ښه وو لږ لږ ډوډی یی خوړله
. راغلو بیرته افغانستان ته
کور ته راورسیدو استاذ لاړو کابل ته
.زه هم ورسره لاړم خور می راوستله
خور می داسی خرابه شوی وه بیخی
. زیاته
کور ته راورسیدو خور می چی پلار
.ولیدو نویی په غیږ کی ونیوو
ډیر ډیر یی وژړل زما یی هم ډیر فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

را خراب کړو.
بس نو ما هم بیرته خپل مکتب شروع
کړو .
وخت تیریده.
پلار می بیا ډیر ناروغ شوو بیا مو
دپاکستان په خوا حرکت وکړو .
پاکستان ته ورسیدو
ډاکترانو ویل چی دانه جوړیګی موږ
به لږ دوا درکړو چی درد یی ورسره
قرار وی.
دوا یی راکړه بیرته ر روان شوو .
افغانستان په خوا را روان شوو .
زما فکر هر څه خراب شول ځکه همدا
یوو پلار می لرلو.
نه پوهیګم چی پاتی ژوند به څنګه
کوم.
کورته راورسیدو یوه میاشت وروسته

*(c) ketabton.com: The Digital Library*

.مو پلار له دنیا لاړو
زه او خور می لکه لیونیان داسی
شولو.
. ژوند هر څه خراب شول
بغیر دغم او دژړا بل څه نه وو زما
. دخور او زما
یوه میاشت همداسی ژړا او غمونه
. دمور غمونه هم تازه شول
ډیر خراب ژوند وو بله ورځ هغه
استاذ راغی زه او زما خور یی بوتلو
. کابل ته خپل کور ته
زما یی له دی مکتب څخه دکابل
مکتب ته سه پارچه واخیسته.
یوځل یی بیا دژوند کولو لپاره پاڅولم
.
استاذ ویل چی مکتب بیرته شروع
. کړه زما استاذ داسی شوو لکه پلار
اوس نو په کورکی دری خورانی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوزه او استاذ وو داستاذ لورگانی زما
. دخورانو په شان وی
.بس یوځل بیا ژوند سم شوو
ماهم مکتب شروع کړو استاذ لورانی
هم مکتب ته تللی نو ټول به جوړه
.مکتب ته تللو
یوه ورځ یو هلک زما خور داستاذ
لورته څه وویل نو ما ته ډیره غوصه
.راغله هغه هلک می ښه سم ووهلو
هلک ویل ته څوک یی . ماورته ویل
. زه یی ورور یم
هلک ویل بیا داسی نکوم بښنه غواړم
.
. هلک لاړو
یو څو انجونی ولاړی وی چکی یی
.وهلی ویل دی ته وایی ورور
زما خورانی نو په ټول مکتب کی سر
.لوړی شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. یوه جنی ډیره ښایسته وه
.زما سره یی سترې مشی وکړې
.ویل ته خو مخکی نه وی چیرته وی
ماویل هغه پریژده اوس خو دی ولیدم
.
.جنی ویل څومره مغروره یی
ما ویل هو نو څنګه یی کوی مغروره
خو یم .
جنی ویل سمده (میری دوست)ماورته
.ویل دا میری دوست څه معنا
.راته یی وویل نو په تا یی څه
. نو ما هم ورته هیڅ ونه ویل
کورته راغللم خورانی می ناسکه وی
.خو تر اصلی خورانو ښی وی
.بس ژوند روان وو
سبا چی لاړم مکتب ته یو ماشوم ماته
. خط راکړو
.ویل یی دا خط تاته چا رالیګلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتری خط واخیست پکی لیکلی وو
مغرور توب به نکوی کنه دژوند دي
زره در تورم خبری سمی کړه اخلاق
دی سم کړه پښنه غوارم میری
دوست.
. او د خط ځواب راته ولیکه
. ماته یی راولیکه
ماورته جواب ونه لیکو لارم خور ته
می وویل دا میری دوست څه معنا.
. هغه راته ویل دا معنا چی زما یاره
وخت تیریده ما ورته هیڅ ځواب ونه
لیکو.
خو بیا هغی جنی خط رالیګلی وو.
ویل چی موږ لس شپی شته یو بیا مو
کور ځی هرات ته هیله کوم دموبایل
. نمبر دی راکړه
. ما هم نمبر ورکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما واتساف نه وو ساده موبایل څخه
. می کار اخیستو
نو سبا یی بیا خط رالیګلی وو چی د
.واتساف نمبر دی راکړه
ماورته ولیکل زه واتساف نلرم
بیګاچی موبایل ته پیغام راغلو زه په
.ډوډی خوړلو مصروف وم
خور می موبایل راواخیست ویل
.وروره دا خو شخصی پیغام دی
.نو زه پوه شوم چی هغه جنی ده
.نو چی می وکتلو لیکلی وو
.سلام سنګه یی کورکی دی خیرت دی
ماورته ولیکل الحَمْدُ ِللّٰہ ستاسو
. کورکی خیرت دی
ځواب یی راغلو ویل نه خیرت نه دی
.
. ماویل ولی ولی
. ویل زه نارغه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماویل څنګه نارغه یی.
ویل یی زړه می درد کوی په تاپسی .
ښه خو زما خو ته نه یی خوښه .
نویی ویل زما خوښ یی ستا خوښه
بیا څه کوم.
ماویل سمده ښه شپه ولری.
ویل دومره وختی .
ماویل هوو
ویل سمده خو ماته به کله خوب
راشی دظالم زوی .
سهار چی پاڅیدم نو موبایل می
چلاند کړو ډیر پیغامونه راغلی وو.
ډیر شعرونه او غزل یی رالیګلی وو.
خو زما په موبایل کی روپی نه وی
. څواب می ورنکړو
بیا مسج راغلو ویل ولی څواب نه
راکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. نو ما بیا هیڅ جواب ورنکړو
دغرمی د ډوډی وخت وو بیا مسیج
راغلو ما بیا جواب ورنکړو ځکه زما
موبایل کی روپی نه وی.
نو لږ وروسته زنګ راغی چی پورته
. می کړو هغه جنی وه
. ویل یی ولی جواب نه راکوی
. ماویل زما موبایل کی روپی نشته
موبایل یی کټ کړو لږ وروسته یی
250افغانی راولیګلی
نو زه هم ډیر حیران شوم چی دا
څنګه کیسه ده خلک انجونو ته روپی
لیګی خو ماته جنی روپی راولیګی
ډیر حیران شوم نو ما هم ومنله چی
په رشتیا عاشقه شوی نو ماهم پریکړه
. وکړه نور به یی زړه ساتم
مسیج می ورته وکړو چی ولی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. راولیګی خو ستا به پکار شی
خو هغی ویل چی ستا لپاره خپل
ژوند دلاسه ورکوم خو تا نشم دلاسه
. ورکولی
. نو زما زړه یی په دی خبرو وګټلو
. بس نو ماهم زړه ورباندی وبایلو
خو اوس مشکل دا وو چی هغه کور
تللو هرات ته.
بس وخت تیریده دهغی کور لاړو
هرات ته.
. زه هم ډیر پسی خفه وم
بس نو په موبایل کی می ورسره
. مسیج کولو هر ماښام
هر وخت به مو تر ډیره وخته ویښ
وو او کفه به مو کوله.
ماورته وویل ته خو دومره لیری لاړی
چی اوس دی لیدل ډیر سخت کار دی
.

*(c) ketabton.com: The Digital Library*

ویل یی ګرانه زړه چی په زړه مین
. شی فاصله نه غواړی
ماویل که زه دبلی جنی سره مینه کوم
او ته دبل چاسره نو په یو او په بل
.څه خبریګو
هغی وویل زه خو دا کار نکوم ځکه
. چی زه پر تا میینه یم
او تاسره پاکه مینه کوم خو زما پر تا
. شک دی چی ته داسی ونکړی
نو ما ورته وویل نه نه ګرانی هغه
وخت خو زه پر تا مین نه وم ځکه می
.داسی خبری کولی
اوس چی پرتا مین شوم ته رانه
.دومره لیری لاړی
ویل سمده کوم مشکل ندی ماځکه
تاته وویل چی زموږ کورځی هرات ته
.چی ستا زړه لږ نرم شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بیرته درځم ماسی دلسو شپو لپاره
. د ماما کره تللی یم
.نوزما زړه ډیر خوشاله شوو
ما ورته وویل سمده دروغجنی
. هغی ویل زه دروغجنه نه یم
.ماویل هوو رشتیا وایی
.هغی وویل سمده خوښه ستا
نو ماورته وویل ښه شپه ولری ماته
. خوب راځی
. هغی ویل ښه شپه ولری ګرانه
نو زه ویده شوم سهار چی پاځیدم نو
.مسیج راغی لیکلی وو
ښکلی سهار دی پخیر په دی هیله چی
. جوړ او روغ به وی
.نو ما هم جواب ورکړو
.روان شوم مکتب ته
. وخت تیریده هغه جنی هم راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورسره سترې مشی وکړی ښه
راغلاست می ورسره وکړو.
خو مخامخ می ورسره هغه شان ګفه
نشوو کولی.
. نو اجازه می تری واخیسته
ماویل زه لږ کار لرم هغی ویل سمده
. ورشه
نو زه لاړم بیرون ته ځکه لاړم چی بیر
. ژوبل شوم
ما دحنی سره تر اوسه مخامخ ګفه نه
. وه کړی
بیرون ناست وم چی ګورم دهغی
جنی سره یو هلک سترې مشی وکړی.
ورپسی ناست ناست وو خو ګفه
بیخی زیاته اوږده شوه.
. ماته بیخی زیاته غوصه راتله
دځان سره می وویل دا ظالم لور خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی چم راسره وکړو.
خو ځه خیر زه به دی هیره کړم.
چی یوار درسره دوکه وکړی بیا به
ماته راځی خو بیا قسم په خدای که
درته وګورم.
نو سوچ می ډیر خراب شوو آن دومره
خراب شوم چی زړه می غوښتل چی
. هغه هلک مړ کړم
خو بس نشوای می کولی.
نو دهیرولو نیت می وکړو خو دزړه
. څخه دچا ایستل ډیر سخت کار دی
خو بس وخت تیریده زه لس شپی
مکتب ته لاړم نه.
. بله ورځ یی مسیج رالیګلی وو
لیکلی وو چیری ورک یی دزړه سره
ولی یو پوښتنه نکوی.
. خو ما هیڅ ځواب ورنکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ماښام بيا مسيج راغلو
ليکلی وو ای بيوفا ولی ځواب نه
راکوی ماخو دافکر نه وو کړی جی ته
. به دومره بيوفا او دوکه باز وی
دي مسيج ډيره غوصه راوستله نو می
. جواب ورکړو
ګوره چم بازې هيڅکله ماته مسيج
ونکړی هيڅکله په مخ رانشی او نه
. غوارم چی ودی وينم
هغی بيا مسيج وکړو ولی ولی څه
.خبره ده
کوم مشکل ماخوستا سره کوم غلتی
نه ده کړی نو ولی داسی کوی ته په
. رښتيا زما دزړه سر يی
ماورته وويل تمسيل دی نور پريږده او
.ماته مزاحمت مکوه
چی سمدلاسه زنګ راغی چی ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغرېدم هغی جنی بېر زیات ژړل او
. په ژړا ژړا یی خبری کولی
.نوما ورباندی موبایل کټ کړو
مسیج می ورته وکړو چی ته دبل
. هلک سره مینه کوی
نو زه دچا مینه کی غمازی نشم کولی
.
جواب یی راغی ویل یی کوم هلک کله
. زه دبل هلک سره مینه کوم
. دا چا درته دروغ ویلی
ما ورته ولیکل گوره زه دچا په خبرو
. هیڅکله باورنکوم
. خو ما په خپلو سترگو ولیدی
هغی ویل ته زما سره نیږدی څخه
. وگوره
. ماویل سمده سبا مکتب ته درځم
. سبا لاړم مکتب ته
زما خور او هغه د استاد لورانی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

.هم زما دخورانو په شان وی
ټول یوځای لاړو مکتب ته زه په
مکتب کی له خورانو جدا شوم .
جنی هلته په ټاکلی ځای ناسته وه .
.بیخی زیاته خفه رامعلومیده
چی ور ورسیدم سترګی مشی می
ورسره وکړی .
زما لاس یی ښکل کړو نو ما ویل
تمسیل کوی .
نو می لاس تری کش کړو هغی راته
.وویل مکوه مکوه داسی
خو بس خبری شروع شوی ما دهغی
هلک عکسونه ختسی وو نو می
ورښکاره کړل .
ویل یی را ته ورشه ستا خور ته دا
.عکس ورښکاره کړه
.چی دا څوک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. لاړم خور ته مي عکس ورښکاره کړو
. خو هغه بيخي زياته وار خطا شوه
ما ورته ويل دا څوک دی خو هغی ډير
. په وار خطايی وويل زه يی نه پيژنم
.لاړم بيرته هغی جنۍ ته ورغللم
چی ګوره مسخری راباندی مکوه دا
. بيخی پيژنی هم نه
جنۍ راته وويل ته کينه چی زه درته
.کيسه وکړم
ويل دا زما دماما زوې دی په هغه ورځ
چی زماسره يی وليدل لږ حساب مي
. زموږ دپلار ورسره وو
هغه مي ورسره وکړو او يو څو روپی
.مي ورباندی پاتی هم شوی
او تايی چی عکس ورښکاره کړو دا
. هلک ستا دخور معشوق دی
زه يی په دي خبره ډير زهير شوم

*(c) ketabton.com: The Digital Library*

. بیخي زیاته ښنه می ترې وغوښته
. خو ماته یی ښنه وکړه
زه لاړم کورته استاذ ته می وویل چی
داکیسه ده دخور کیسه مي ورته وکړه
.
استاذ ویل کار مه په لره خو څارنه
یی کوه بیخي زیاته زویا پوه شوي
.چې هیڅکله یې څارنه یې مه پریژده
ماویل سمده خو چي سوچ مي وکړو
چی زه هم عاشق شوي یم نو زما په
مینه کی چی څوک لاس وهنه وکړی
.نو څومره زور غواړی
نو پریکړه می وکړه چی نور به کار
نلرم خو ماسی به دا هلک معلوم کړم
چی ښنګه اخلاق او ښنګه کورنۍ
.لری
نو بله ورځ ورغللم سترې مشی می
. ورسره وکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. خو ډېر ښایسته اخلاق یی وو
ګفه می ورسره وکړه نو هغی رانه
. پوښتنه وکړه
وروره لیدلی می نه یی ښښنه کوه نوي
راغلی یی.
. ما ویل هوو نوي راغلی یم
. ویل دلی څوک خپلوان لری
ماورته وویل نه څوک نلرم ماځکه
دروغ ورته وویل چی زه یی معلوم
. کړم
. چی څنګه هلک دی
خو بل آخره داهلک زما ډېر ټینګ
ملګری شوو.
. خو چی ماکوم معلومات وکړل
نو دا هلک بیخي ځانګړی شخص وو.
ماهم ورته دزړه خبری کولی او هغی
هم دخپل زړه خبری کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو لږ وخت وروسته خبر شوو چی
. زه دهغی ورور یم
.نو مکتب ته بیخی نه راتلو
او زه می دخور په حالت پوهیدم چی
.زیاته خفه وه
ماښام ېوېی مو وخورې استاذ لاړو
.دخوب کوټی ته
زه او زما خورانی پاتی شوی نو می
خورته وویل خوری زه پوهیگم چی
.ته ولی داسی خفه یی
خو إن شاء اللّٰه که زه ژوندی وم
.استاذ باندی هم منم ستا کیسه
خور می وویل کومه کیسه ده چیشی
. کیسه
نو ما ورته پاک وویل او سبا می هغه
.هلک ته زنگ وکړو
او ورته ومی ویل چی مکتب ته راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

.یاره پول دیغت دی
خو ډیر ټینګار یی کولو خو ما هم
. ورسره سم ټینګار کولو
.خو اخیر می مجبوره کړو
خو راغلو مکتب ته زیات شرمیدو خو
.ورته لږ زړه می ورکړو
.نو مکتب رخصت شوو
لاړم کورته استاذ ته می ټوله کیسه
.وکړه چی هلک دارقم دی
نو د استاذ هم ډیر خوښ شوو ماته
یی وویل دلور نوم یی واخیست ورته
. ووایه چی هلک مرکه راولیګی
.ماویل سمده
خور ته می وویل چی استاذ خو
. راضی شوو
نو اوس ته هلک ته ووایه چی مرکه
. راولیګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

.خور می په سترګو کی اوښکی راغلی

.خو نه پوهیګم چي ولې

.ماترې پوښتنه وکړه چی ولي ژاړې

خور مې ویل چي وروره دخوشالي

ژاړم ځکه ما دافکر نه وو کړي چی زه

. به خپل دمینې هدف ته ورسم

خو اوس ستا احسان نشم ادأ کولي

. ګرانه وروره

نو سبا هلک مرکه راولیګه دوستې مو

.ورسره وکړه

. بله ورځ مکتب ته لاړم

هغه جني سره زما داستاذ لور یا زما

.خور ناسته وه

.نه پوهیدم چې څه یې ورته ویل

. خوبیره خوشاله ورته غږیده

. زه ور روان شوم خو خبرې بس کړې

نو ماورته وویل لکه چې مزاحم مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. شوم
ویل نا نا راځه چی ورغللم نو هغې
جنۍ یوه ښه ټینګه چکه په مخ
.راکړه
ویل ډیر مغرور یې سم شه کنه سموم
.دی
ماویل زه خو سم یم نو څنګه سم
.شم
. وخت تیریده
دمکتب څخه فارغه شوه لاړه
.پوهنتون ته
. نو بیا مې ورسره لیدل نه کیدل
خو مسیج به مې ورسره کولو زما هم
.یو کال پاتې وو
. نور نو زه هم تللم پوهنتون ته
. بله ورځ مې مسیج ورسره کولو
. هغې ویل زه راغلي یم کورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوې هفتې لپاره.
ماویل زه به چیرې درسره ووینم .
هغې ویل مه راسره وینه.
ماویل ولې ولې .
هغی ویل زما ورور راغلي هغه ډیر
کبرجن دي .
ماویل سمده ګرانې.
خو زه په مسیج ورسره اخته وم.
نو مسیج راغي ویل ته اوس چیرته
یې .
ماورته ویل مکتب کې یم .
ویل سمده .
لږ وروسته بیا مسیج راغي لیکلي وو.
ګرانه هیله کوم له مکتب لاړ شه.
ماویل ولې ولې .
زما ورور راڅخه موبایل واخیست ډیر
غوصه در روان شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. نه نه ګراني نه ځم
هغې بیا راته مسیج وکړو هیله کوم
.زما خبر ومنه
. ماورته ویل سمده
زه له مکتب روان شوم چی دروازې ته
.رسیدم نو هغه راغلو
زه یې تر لاس ونیولم دمکتب څخه
. یې لیرې بوتلم
هلته یې بیخې زیات ووهلم ډیر غټ
.او قوي بدن یې وو
ماورته وویل کوم مشکل دي ولې می
. وهې
ویل ته ولې زما خور ته مسیج کوې
خو ما ورته وویل چې زه پاکه مینه
.ورسره لرم
.بیایې ډیر ووهلم سر مې را مات کړو
بیایې راته وویل راکړه ستا دپاکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مينې دليل.
ماهيځ ورته ونه ويل .
بيا يې راته په غوصه وويل راکړه ستا
دمينې دليل.
خوبيا مې ځواب ورنکړو .
هغه سرې راته ويل که دې مرگ ته زړه
کيدو بيا ورته مسيج وکړه.
نو هغه لاړو.
زه پاڅيدم روان شوم خو نشواي مې
کولي چې حرکت وکړم.
نو دمکتب څخه ديو هلک را باندې
فام شوو.
او رامنډه يې کړه او هغه نورو ته يې
هم غږ وکړو.
زما خورانې هم رغلې هغوي ډير ډير
ژړل ويل دا چا وکړل دا ولې وروره
چا کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

. خو امبولانس يې راوغوښت
.زه يې تر ډاکتره ورسوم
.سر مى يې را سم کړو راوې ترلو
لږ دوا يې هم راکړه.جنۍ راته زنګ
. وکړو ډير ډير يې ژړل
. ويل ګرانه دا ټول زما دلاسه
ماورته ويل نه ستا هيڅ کومه ګنا نه
.وه
خو هغې به مسيج کولو په ډير
. احطياط
. وخت تيريده
. مينه مى دلاسه ورکړه
بله ورځ په لاره تيريدم چې دهغې
کور ته راورسيدم هغه کور چې هلته
يې واده کړی وه
داسې ليونۍ شوم زيات زيات مې
. وژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اخیر هغه راووتله چی زه یې
ولیدم
ویل ای لیونیه داخه کوي
هغه ځوانې ښځه دي داسی شی جوړ
کړی.
ماویل ګرانې دومره غمونه چی زما
دې هغه به سړې لیونې خو لاځه کوی
ځان وژنه هم کوی.
هغې زیات زیات وژړل راته یې ویل
ورځه ګرانه اوس به مې خاوند راشی
.

ℛ ❤️S

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای

دکوم مشکل لپاره مسیج وکړی او که
غواړی چی زما نور داسی ښکلی
ناولونه وګوری بیا هم مسیج وکړی
0797335830
0730432762

ستاسو دنیکو دعاګانو په هیله ستاسو
ورور رفیع الله علی حیدر وردګ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**